# د جېمز ډارمستېټر پښتو ژبني او ادبي خدمات ( ۱۸۴۹ ـــ ۱۸۹۴ )

محمد جاوېد خلیل

**ABSTRACT**
This paper highlights the contributions of James Darmstator in the development of the Pashto language and literature. The various aspects of the life of this writer are traced as are his literary contributions including his very important collection of Pashto *Chants Populair Des Afghans.*

جېمز ډارمستېټر په ۲۸ مارچ ۱۸۴۹عیسوي کښې د فرانس په الزاس نومې ښار کښې په یوه غریبه کورنۍ کښې پېدا وو. د اصل نه یهودي وو. د پلار نامه ئې سرف (CERF) او د ورور آرسن ډارمستېټر وه . جېمز ډار مستېټر د رنګ او جِوسې نه ښائسته نۀ وو مندرے چیت ولې ذهین ډېر وو. دۀ په پېرس کښې سبق وئیلے وو. په ۱۸۷۷عیسوي کښې ئې په ادبیاتو کښې پي ایچ ډي اوکړه . په ۱۸۸۵عیسوي کښې په کالجِ ډي فرانس کښې د شرقي علومو استاد مقرر شو . مشرقي علومو سره ئې مینه ډېره وه ، ځکه نو په دې مېدان کښې ئې په زړۀ پورې تحقیقونه اوکړل . دغه وجِه وه چې په کال ۱۸۸۲عیسوي کښې د فرانس حکومت د هندي ژبو د څېړنو کار ور پغاړه کړو او هند ته ئې راواستلو۔ دے هند ته د خپل راتګ پحقله داسې وائي :-

> ***د ۱۸۸۲ عیسوي د پسرلي په موسم کښې د فرانس علمي وزارت د هند د علمي مطالعاتو دپاره زۀ مامور کړے ووم. نو ما د پښتنو په سیمه ځنې متونه ټول کړل چې هغه په دې کتاب کښې ترجِمه کړم. ما کوشش کړے دې چې پښتنو ته هغسې کار اوکړم څنګه چې فوریل***

*اوسنو يونانيانو ته کړے دے ـ يعني ژبپوهانو او تاريخ دانانو د پاره د ژبې او ملي تفکر سمې او صحيح نمونې راټولې کړم [۱] ـ*

هم دغه وجه وه چې دۀ په بمبۍ ، هزاره ( ابېټ اباد ) او پېښور کښې په زړۀ پورې تحقيقونه اوکړل ـ د پښتنو په علاقه ددۀ مشن د ژبپوهنې نه علاوه د پښتو اولسي ادب راجمع کول وو ـ ځکه نو د پښتنو کلي په کلي ، کوڅه په کوڅه ګرځېدلے دے ـ د هر کور دروازه ئې ډبولې ده ـ د پښتنو په حجرو کښې ئې په محفلونو کښې ګډون کړے دے چې په نتيجه کښې ئې د پښتنو د ملي سندرو په نامه يو کتاب اوليکلو چې نوم ئې ورله ,, د پښتونخوا د شعر هار و بهار ،، کېښودو ـ دا کتاب په ۱۸۸۸ عيسوي کښې په پېرس کښې شائع شوے دے ـ فرانسيسي نوم ئې دے *Chants Populair Des Afghans* دۀ په دې کتاب کښې عوامي غزلې ، چاربېتې ، بدلې ، متلونه ، ټپې ، الله هو ، قېصې او سندرې راجمع کړې دي ـ د کتاب په وړومبي مخ داسې ليکلي شوي دي :-

*د پښتونخوا د شعر هار و بهار يوه مجموعه د غزلو او چاربېتو د متلونو او قېصو د مصرو او سندرو چې د پېښور په ښار او د ابېټ اباد په چهاونۍ کښې د فرانس سرکار په حکم او فرمائش سن ۱۳۰۳ هجري جېمز ډارمستېټر صاحب جوړه کړه ـ*

دا کتاب په دوؤ برخو وېشلے شوے دے ـ وړومبۍ برخه ئې د پښتو ژبې او پښتنو په حقله معلومات دي ـ ورپسې فقه اللغه او فقه الصوت بيان شوي دي دا برخه سيد قاسم رشتيا په فارسۍ ترجمه کړې او بيا عبدالحئ حبيبي او عبدالرؤف بېنوا پښتو کړې ده چې وروسته ئې د ,, ډارمستېټر پښتو څېړنې ،، په نامه ځان له پښتو ټولنې کابل په کتابي شکل کښې چاپ کړې ده ـ دا کتاب په کال ۱۳۲۶ هـ ش ۱۹۴۷ عيسوي په عمومي مطبع کښې چاپ شوے دے او د

---

[۱] د ډارمستېټر پښتو څېړنې ، سيد قاسم رشتيا ، پښتو کوونکي عبدالحئ حبيبي او عبدالرؤف بېنوا ص ۳

پښتو ټولنې کابل له خوا خور شوے دے. دا کتاب ټولې ۱۱۲ صفحې لري. په دې حقله ډاکټر روان فرهادي د پښتونخوا د شعر هار و بهار په مقدمه کښې ليکي :-

> *د ډارمستيټر بل کتاب د پښتو ژبه نوميږي چې د غږ پوهنې (صرف، اشتقاق، ترکيب) او پښتو ژبې د منشاء په باب نظريې لري د حسابي او اداري غوښتونو له مخې ډارمستيټر مجبور شو چې دا ځانګړے کتاب له ,,هار و بهار،، سره يو ځائے چاپ کړي حقيقت دا دے چې د ژبپوهنې دا کتاب د خلکو د ادب او د اولسي سندرو له څېړنې سره مستقيم اړيکې نۀ لري [1] .*

ډار مستيټر دا څېړنه ډېره په هوښيارتيا او ژور نظر کړې ده. پخپله خو دے يهودي وو ولې د پښتنو اصل او نسب ئې لکه د نورو محققينو سمدستي د يهودو سره نۀ دے تړلے بلکې دا ئې ثابته کړې ده چې پښتانۀ د هغه لرغونو آرياؤ اولاد دے کوم چې د پخوا راسې په ننني پښتونخوا کښې اوسيږي. ددې کتاب د ترجمې په حقله عبدالرؤف بېنوا صېب ليکي :-

> *پر دې ځائے د ډارمستيټر د پښتود څېړنو يوه برخه پاى ته ورسېدله او مونږ دا د لومړي ټوک په توګه خپرو و . کومه يادؤنه چه دلته ضروري ده هغه دا ده چه د پښتو په ترجمه کې دا رعايت شوے دے چه کټ مټ د ښاغلي مستيټر نظريات ترجمه شي. ښايي چه ځينې ځايونه به ئې د پښتو جملو فارسي ترجمه سمه نۀ وي او يا به پخپله د ډارمستيټر په نظرياتو کې کومه سهوه وي خو مونږ ددې دپاره چه عيناً ددې فرانسوي عالم نظريات د پښتو په شا و خوا کې راترجمه کړو. په نظرياتو او امثالو کې مو تصرف نه دى کړى [2].*

---

[1] هار و بهار ، صفحه ۵ ، روان فرهادي پښتو کونکے حبيب الله رفيع

[2] د ډارمستيټر پښتو څېړنې ، سيد قاسم رشتيا ، پښتو کوونکي عبدالحئ حبيبي او عبدالرؤف بېنوا ص ۱۱۲

د کتاب دوېمه برخه د پښتونخوا د شعر و هار و بهار هغه غنائي سندرې ، چاربېتې ، بدلې ، نيمکۍ ، متلونه ، ټپې ، الهو او قېصې دي کومې چې دۀ د پښتنو په علاقه کښې ډېرې په تکليف او کړاؤ پېدا کړي دي. د کتاب دا دوېمه برخه ډاکټر روان فرهادي په فارسۍ ترجِمه کړې ده. وروسته د پوهاند عبدالحئ حبيبي توضحاتو سره حبيب الله رفيع پښتو کړې ده ـ دا کتاب ټول ۲۲۸ صفحې لري ـ دغسې که د تشريحاتو ، نوم ليک او سمون ليک ۹۹ صفحې ورسره شي نو کتاب ټول ۳۲۷ صفحې جوړيږي چې په ۱۳۵۲هـ ش کال يعنې ۱۹۷۷عيسوي کښې پښتو ټولنې کابل شائع کړے دے. د کتاب په حقله ليکونکے په خپله وائي چې دې سندرو پسې زۀ د پښتنو کوڅه په کوڅه ګرزېدلے يم. جېلونو ته پسې تلے يم او دا سندرې مې راجِمع کړي دي چې زياتې پکښې د عوامو يادې وې ـ هم دغسې يوه واقعه بيانوي او وائي :-

*د کال ۱۸۸۲ء د اپرېل د مياشتې په اوومه د چارشنبې په شپه يوولس بجې د خپلې بنګلې په بڼ کښې ناست ووم. د ځلېدونکو ستورو او سپينې سپوږمۍ تماشه مې کوله ـ سپين ګرے څوکيدار مې چې پيرو نومېدو او په قوم خليل وو په لړزېدلي شانته اواز يوه سندره ورو ورو د ځان سره وئيله چې ماته عشقي سندره ښکاره شوه ـ پيرو ته مې خواست اوکړو چې دا سندره يو ځلې بيا اووايي اول خو ئې نه نه اوکړل خو بيا ئې په سندره داسې شروع اوکړه :-*

*په تورو څنو به جارو کړم زيارتونه د پير بابا*
*که مې قبول کاندي سوالونه په تورو څنو*
*په تورو څنو ورله لاړم ننواتې*
*يار مې دکن ته تلو په خپله مې کړو پاتې*
*په تورو څنو ورته اودرېدم سر توره*
*ورته مې اونيوه جولۍ چې دې ته ګوره*
*سوال مې قبول کړه درته وايمه په زوره*
*پکار مې نۀ ئې که نواب په ازربات ئې*

یار مې د کن ته تلو په خپله مې کړو پاتې
په تورو څنو ـ

وائي چې سپین ږیرے پیرو هم دلته تې اودرېدو ـ د خدائے منتې مې ورته اوکړې ـ نو ره ئې یو کلمه د مینې په خاطر د خولې نۀ را ویسته او نۀ د پېسو د پاره ـ خو ما د پاره هم دا یو څو مصرعې کافي وې چې د پښتو اولسي سندرو سره مې مینه پېدا کړي ـ نو ما دې ته کلکه ملا او تړله چې څو مره مې دلاسه کیږي هو مره پښتو سندرې را ټولې کړم [1] ـ

په یو بل ځائے کښې وایي :-

په کال ۱۸۸۲ عیسوي د ستمبر د میاشتې په پنځلسمه د ایبټ اباد د جېل کتو له تلے ووم ـ هلته مې یو سړے اولیدو چې د قېد ئې څو میاشتې تېرې وې ـ دا ځکه چې په نشه کښې ئې د یو هندو پښه ماته کړې وه ـ ددې سړي فکر او دماغ په ځائے نۀ وو ـ وئیل به ئې چې زۀ دا نۀ یم چې ما ګورئ ـ زۀ بادشاه یم باید چې په تخت کښېنولے شم ـ په صبا خبر شوم جې د لاندینۍ شکلے سندرې شاعر هم دا محمد جِي وو چې د پکلۍ او سېدونکے وو او څو وارې جېل ته تلے وو ـ

بېګاه مې د ے سېل کړے په بازار د تورو زلفو
زۀ ګل لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو
بېګاه مې د ے سېل کړے ستا د زلفو باغیچه کښې
ګل لکه بورا شوم د انارو په چرچه کښې
خخ مې کړل غاښونه د نرۍ زنې سوچه کښې
بل بوي مې کړو د شاه د غاړې هار د تورو زلفو
بېګاه مې د ے سېل کړے په بازار د تورو زلفو
زۀ ګل لکه بورا شوم په ګلزار د تورو زلفو [2] ،،

---

[1] د مشرق په اسمان کښې د مغرب ستوري ، ډاکټر حبیب الله تړے ، صفحه ۱۵۲

[2] هار و بهار څلورمه برخه عشقي سندرې ، صفحه ۴۹ ، او د مشرق په اسمان کښې د مغرب ستوري صفحه ۱۵۴

د ډار مستېټر يو بل کوشش هم د يادو وړ دے ـ کوم چې هغه د هار و بهار د راجِمع کولو نه وړومبے کړے دے ـ دا په ,, افغاني سندرو کښې افغاني مينه،، هغه مقاله ده کومه چې په کال ۱۸۸۷ عيسوي کښې په کانټمپريري ريويو کښې شائع شوې ده ـ دۀ په دې مقاله کښې خواو شا شل د پښتو سندرې او ورسره ټپې راجِمع کړې دي ـ وروسته دا مقاله په کال ۱۸۹۵عيسوي کښې د ډارمسټېټر په ,, غوره مضامين ،، کښې د پنسلوانيا يونيورسټۍ د استاذ موريس جاسټرو په مقدمه شائع شوې ده ـ په افغاني سندرو کښې افغاني مينه مجِموعه ټولې ۴۹ صفحې لري ـ په دې مقاله کښې مؤلف په پښتو اولسي سندرو خبرې کړې دي ـ ورسره ئې د پښتنې ټولنې په هغه خصوصياتو هم بحث کړے دے کوم چې دغه سندرو سره نزدې تړون لري ـ دے وائي چې په پښتنو کښې دوه قسمه خلق پښتو سندرې جوړوي ـ يو قسم هغه دي چې شاعران دي ـ کتابي شعرونه او ديوانونه ليکي ـ بل هغه دي چې دا سندرې وايي ـ دوي ته ډمان وئيلے شي ـ پښتانۀ خو سندرې خوښوي اوري ئې هم ، ولې ډم يا فنکار ته په ښۀ نظر نۀ ګوري ـ دۀ په دې ليک کښې په ډمانو او د هغوي په کسب او کار خبرې کړې دي ـ د ډېرو اولسي شاعرانو د سندرو نمونې ئې راخستې دي ـ وړومبے ئې په فرانسي او بيا ئې په انګريزۍ ژبه ترجِمه کړې دي ـ په دې حقله ډاکټر حبيب الله تړے وائي :-

> *ډارمسټېټر په دې مقاله کښې خواؤ شا شل داسې د پښتو اولسي سندرې په انګريزي ژبه ترجِمه کړې دي چې ددۀ پخپله عقيده د پښتنې ټولنې د يو لړ بارزو اجتِماعي او سياسي خصوصياتو او عشقي ژوند ډېره ښۀ نمائندګي کوي ـ دغه راز دۀ يو شمېر لنډۍ هم په دې اثر کښې ترجِمه کړې دي ـ د ډارمسټېټر دغه اثر د کميت په لحاظ ډېر کوچنے اما د کيفيت په لحاظ د خاصې توجه وړ دے ـ داسې چې په غرب کښې دا تر ننه پورې لومړنے او وروستنے اثر دے چې د پښتنو د يو زيات شمېر کم يافته او حتی نايابه اولسي سندرو انګريزي ترجِمه پکښې ثبت شوې ده ـ او ډارمسټېټر چې خپله هم د*

*ډېر عالي شعري ذوق او استعداد خاوند وو. په انګرېزي هم ددهٔ د يوه معاصر استاد جاستېرو په قول د مورنۍ ژبې په شان حاکم وو. دهٔ دا ترجمه په داسې قدرت کړې ده چې د شعري ښکلا له نظره تر اصل نه څهٔ وروسته نهٔ پاتې کيږي. دغه راز ډارمستېټر په دغو سندرو ډېرې په زړهٔ پورې، دقيقې او له انساني جذباتو نه داسې ډکې تبصرې کړې دي چې له يوه غربي نه ئې خصوصاً نژدې يو سل او شل کاله د مخه په اسانۍ توقع نشي کېدلے*[1]

ډارمستېټر د خپل کتاب هار و بهار په مقدمه کښې د پښتو اولسي سندرو په حقله واي چې دا سندرې څومره اهميت لري دومره ورته چا پام نهٔ دے کړے. دې سندرو نه د پښتنو د ژوند معلومات په اسانه راغونډېدے شي. دا سندرې، چاربېتې مونږ ته د هغه جنګونو تاريخ ښاي کوم چې وخت په وخت سيکهانو او انګرېزانو سره پښتنو کړي دي او هم دا سندرې دي چې د جنګ مېدانونه ئې په ګټه بدل کړي دي. که يو خوا به مُلايانو صاحبانو په خپلو تقريرونو د پښتنو جذبې راوچتولې نو بل خوا به اولسي شاعرانو په دې سندرو دغه جذبې انتها ته رسولې. پښتنو کښې به ئې دومره جذبه راولړزوله چې بيا به نهٔ په ځان وو نهٔ په جهان خو د جنګ مېدان ته به په منډه روان وو.

د کتاب په مقدمه کښې دهٔ د هغه ټولو کسانو شکريه ادا کړې ده چا چې ورسره په دې کار کښې منډه او زغل کړے دے. د خپل منشي محمد اسماعيل چې د هزارې (ډوډيال) اوسېدونکے وو او په ايبټ اباد کښې ئې ورسره مرسته او مدد کړے دے. د پير محمد علي چې د سپينې ورۍ اوسېدونکے وو د عنوان الدين، د مستشرق تاربرن، د محمد جي چې د پکلۍ اوسېدونکے وو او بيا په تېره تېره د خپل نوکر پيرو چې په قام خليل وو او دهٔ سره د پېښور په چهاؤنۍ

[1] ,, د مشرق په اسمان کښې د مغرب ستوري ،، صفحه ۱۵۲ ، ۱۵۳

کښې په بنګله کښې څوکيدار وو چې ددې کتاب د ليکلو سبب جوړ شو* . په اخر کښې ئې د خپل کار د نيمګړتيا ذکر هم کړے دے . واي چې بايد زما نه پسته داسې څوک راوچت شي او دا کار په مخه بوځي ځکه چې ما په سپړ کښې پوښے هم نۀ ده رېشلې .

د ډارمسټېټر يو بل مشهور کتاب ,, د هند په باب ليکونه ،، دے . دۀ په دې کتاب کښې زيات د افغانستان تاريخ بيان کړے دے . دے واي چې دې کتاب له مې دا نوم ځکه خوښ کړو چې زيات لوستونکي ئې پېدا کړم . دا ځکه چې هغه وخت يورپيانو د هند پېژندنې سره زياته مينه لرله . ولې حقيقت دا دے چې دا کتاب په سلو کښې اتيا فيصدي د افغانستان تاريخ او خصوصاً د افغانانو او انګرېزانو د دوېم جنګ په باب دے . ددۀ بل ليک په هندوستان کښې د ژبپوهنې د څېړنو يو رپورټ دے چې په کال ۱۸۷۷عيسوي کښې په فرانس کښې چاپ دے . دا ليکنه د پېښور او ورسره خواو شا علاقو په حقله په زړۀ پورې معلومات لري .

بل ليک ئې د ,, د پښتنو تاريخ او منشا ،، نومېږي چې له هار و بهار سره يو ځائے چاپ دے ولې هار و بهار سره هېڅ نزديکت يا تړون نۀ لري . نۀ پوهېږو چې دا ددۀ خپله مجبوري وه او که نه د حکومت فرانس له مخه څۀ بندېز وو . په دې ليکنه کښې دۀ د يوناني تاريخ ليکونکو اثار ياد کړي دي . ورسره د غزنوي او غوري دوره کښې د پښتنو په باره کښې ښۀ معلومات لري . ددۀ يوه بله مقاله ,, د خلقو ادب د پښتنو په نزد ،، نومېږي چې د پښتو تحريري ادب ذکر پکښې په تفصيل سره شوے دے . يعني د پير روښان خيرالبيان ، د اخون درويزه مخزن الاسلام او ورسره کلاسيکي شاعران او د هغوي د شاعرۍ بيان شوے دے . ورپسې د خوشحال خان ديوان د هغه د شاعرۍ او اولاد ذکر پسې د

* پيرو دۀ سره په بنګله کښې څوکيدار وو . د شپې ئې ځان سره يوه سندره ورو ورو وئيله چې دۀ واورېده . ښه پرې اولګېده . دا سوچ ئې اوکړو چې دا سندرې چې د خلقو په يادو دي د دوي د مرګ سره به فنا شي . ځکه نو اراده ئې اوکړه چې دا سندرې راټولې کړي او د ورکېدو نه ئې بچ کړي .

اولسي شاعرۍ ، اولسي سندرو ، غزلو ، چاربېتو او د اولسي شاعرانو نومونه بيان شوي دي .دا مقاله د کتاب هار و بهار په سر کښې شامله کړې ده چې مونږ ئې د کتاب سريزه ګڼلے شو .

ددې نه علاوه دې ښاغلي د يهودو په باره کښې تحقيق کړے دے .په کال ۱۸۸۳عيسوي کښې ئې د انګرېزي ادب څېړنه نومې کتاب ليکلے دے .په ۱۸۹۲عيسوي کښې ئې د ,, بني اسرائيلو پېغمبران ،، کتاب چاپ کړے دے . په ۱۸۹۰عيسوي کښې ئې ,, افسانه الهی ،، کتاب ليکلے او چاپ کړے دے . د پښتنو د پښتو ادب دا نامتو خوا خوږے په کال ۱۸۹۴عيسوي د اکتوبر د مياشتې په نولسم تاريخ په ماسيونزلافيت کښې وفات شو .

# کتابيات


۱. ترړے پروفېسر ډاکټر حبيب الله ، ۱۳۸۵هـ ش ۲۰۰۷عيسوي ، د مشرق په اسمان کښې د مغرب ستوري ، دانش کتب خانه پېښور ښار د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.

۲. حبيبي عبدالحئ ، بېنوا عبدالرؤف ۱۳۲۲هـ ش ۱۹۴۷عيسوي ، د ډارمستېټر پښتو څېړنې ، پښتو ټولنه کابل افغانستان.

۳. رحيم عبدالرحيم ، ۱۹۷۴عيسوي ، په خارجِ کښې پښتو څېړونکي ، پښتو ټولنه کابل افغانستان .

۴. زلمے هېواد مل ، ۱۳۷۳هـ ش ، ۱۹۹۴عيسوي ، په هند کښې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاؤنه ، شرکت پرنټنګ پرېس لاهور پاکستان.

۵. زلمے هېواد مل ، ۱۳۷۵هـ ش ، ۱۹۹۲عيسوي ، د پښتو نثر اتۀ سوه کاله ، ملت پرنټرز لاهور پاکستان.

۶. طائر محمد نواز ، صفدر علي شاه ، ۱۹۸۷ ، روهی ادب ، جدون پریس پشاور ، پشتو اکیډمی پشاوریونیورسټی ۔

۷. فرهادي روان ، رفیع حبیبه الله ، ۱۳۵۶هـ ش ، ۱۹۷۷عیسوي ، د پښتونخوا د شعر هار و بهار ( ترجِمه ) پښتو ټولنه کابل افغانستان ۔

۸. ناصر نصرالله ، ۱۳۸۳هـ ش ۲۰۰۴عیسوي ، د پښتني فولکلور د چاپي مجِموعو څېړندود ، د ازادۍ مطبعه ، کابل افغانستان ۔